څوک چې اذان واوري او بيا ووايي: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ». «اې د دې بشپړې بلنې او د دې ودريدونکي لمونځ (مالکه)؛ محمد - صلى الله عليه وسلم - ته وسيله او فضيلت ورکړه، او هغه ستايل شوي مقام ته يې ولېږه چې تا يې ورسره ژمنه کړې ده. (چا چې د اذان پسې دا دعا وويله نو) هغه د قيامت په ورځ زما د شفاعت مستحق وګرځېده

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې اذان واوري او بيا ووايي: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ». «اې د دې بشپړې بلنې او د دې ودريدونکي لمونځ (مالکه)؛ محمد - صلى الله عليه وسلم - ته وسيله او فضيلت ورکړه، او هغه ستايل شوي مقام ته يې ولېږه چې تا يې ورسره ژمنه کړې ده. (چا چې د اذان پسې دا دعا وويله نو) هغه د قيامت په ورځ زما د شفاعت مستحق وګرځېده».

[صحيح دى] [بخاري روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: کله چې اذان کوونکى له اذان څخه فارغ شي او اوريدونکى دا دعا ووايي: (اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ)، اې د دې بلنې ربه! دا د اذان هغه الفاظ دي چې د الله تعالى عبادت او لمانځه ته پرې بلنه ورکول کيږي، (التَّامَّةِ) يعنې بشپړې بلنې چې د توحيد او رسالت بلنه ده، (وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ) او اې د هغه لمونځ ربه چې تل تر تله به ادا کيږي، (آتِ) ورکړه، (مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ) محمد صلى الله عليه وسلم ته په جنت کې هغه لوړ مقام او منزلت ورکړه چې له هغه پرته بل چاته نه ښايي، (وَالفَضِيلَةَ) او هغه رتبه چې د مخلوقاتو له رتبې څخه ښه او غوره ده (وَابْعَثْهُ) او ورکړه (مَقَامًا مَحْمُودًا) هغه ستايل شوې رتبه چې استوګن يې ستايل کيږي، کومه چې د قيامت په ورځ لوى شفاعت دى (چې دى به يې کوي)، (الَّذِي وَعَدْتَهُ) هغه چې تا يې ورسره په خپله دې وينا کې ژمنه کړې ده چې: {عسى أن يبعثك ربك مقامًا محمودًا} لرې نه ده چې ستا رب به تا د ستاينې وړ مقام خاوند کړي. تر څو دا مقام د هغه صلى الله عليه وسلم شي. نو څوک چې دا دعا ووايي د قيامت په ورځ به د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شفاعت مستحق وي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee